هفته واره رساله

# پهٔ بوډا والي کښې
# د خُدائے یاد

(پښتو)




| | |
|---|---|
| د عمر څلور حصے | 06 |
| نقلي بوډا | 10 |
| د ټولو نهٔ مخکښې د چا ږېرهٔ سپینه شوه؟ | 12 |
| د سرو زرو پهٔ قلم لیکلے شوي نصیحتونه | 14 |



پیشکش: المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)
Islamic Research Center

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# پهٔ بوډا والي کښې د خُدائے یاد

دُعائے عطّار: یا **الله** پاکه! څوک چې دا رساله "پهٔ بوډا والي کښې د خُدائے یاد" ولولي یا واوري، هغهٔ ته د خپل عمر پهٔ هره حصه ماشومتوب، ځوانی او بوډا والي کښې د خپل عبادت کولو توفیق ورعطا کړې او هغهٔ بے حسابه اوبخښې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی الله علیه واٰله وسلّم

## د فرښتو اِمامت (د دُرُود شریف فضیلت)

د حضرت حَفص بن عبدُ الله رحمۃ الله علیه بیان دے چې ما اِمامُ المُحدِثِین حضرت اَبُو زُرعَه رحمۃ الله علیه د هغوئي د وفات نه پس پهٔ خوب کښې ولیدلو چې هغوئي پهٔ ورومبي اسمان کښې فرښتو له جَمعه ورکوي. ما ترینه پوښتنه وکړه: اے اَبُو زُرعه! ستاسو دا اِعزاز او اِکرام څنګه نصیب شو؟ هغوئي اِرشاد وه فرمائیلو "ما پهٔ خپل لاس باندې لس (10) لاکهه حدیثونه لیکلي دي او ما به پهٔ هر حدیث کښې دُرُودِ پاک لوستلو او د نبيِ رَحمت صلّی الله علیه واٰله وسلّم فرمان مبارک دے چې کوم مسلمان پهٔ ما باندې یو ځل دُرُود شریف راولیږي نو **الله** پاک پهٔ هغهٔ باندې لس رحمتونه نازلوي. (شرح الصدور، ص294)

قَبۡر میں خُوب کام آتی ہے　　بیکسوں کی ہے یارِ غار دُرُود
(ذوقِ نعت، ص125)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# تنها اوسیدونکے بُزرګ

عظیم تابعي بزرګ، حضرت ایاس بن قتاده رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه د خپل قوم سردار وو. یوه ورځ هغوئي پۀ خپله ګیره کښې سپین ویښته ولیدلو نو دُعا یـې وکړه: " یا **اللّٰه** پاکه! زۀ د ناڅاپه راتلونڪو حادثو نه ستا پناه غواړم، ما ته معلومه ده چې مرګ پۀ ما پسې راپسې دے او زۀ د دې نه بچ کیدے نشم." بیا هغوئي د خپل قوم خوا له تشریف یوړلو او اوئې فرمائیل: اے بَنُو سَعد! ما خپله ځواني تاسو ته وقف کړې وه اوس تاسو ما ته زما بوډا والے را اوبخښئ (یعنې پۀ ځوانۍ کښې مې ستاسو معاملې سمبال کړې خو اوس پۀ بوډا والي کښې ما د **اللّٰه** پاک عبادت ته پرېږدئ.)" بیا حضرت ایاس بن قتاده رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه خپل کور ته تشریف راوړلو او پۀ عبادت کښې مصروف شو تر دې پورې چې هغوئي وفات شول. (بحرالدّموع،ص112)

د **اللّٰه** رَبُّ العِزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

چا شاعر ډېر ښه وئیلي دي:

ګوش و پادوش و خرد ہوش میں ہے     کرنا ہے جو کر لے آج ہی

د سبق نه د ډَکو د عربۍ د یو څو شعرونو ترجمه واورئ!

﴾1﴿ اے بوډا انسانه! آیا د بوډا والي راتلو باوجود هم تۀ پۀ جهالت (یعنې د مرګ هیرولو سره پۀ دوکه) کښې اخته یـې؟ اوس (پۀ دې عمر) کښې ستا د طرف نه د جهالت مظاهره بالکل ښه نه ده.

﴾2﴿ ستا فیصله خو د سر ویښتو وکړه خو بیا هم تۀ د دُنیا پۀ لور مائله کیږې او ناپائیداره (دُنیا) تا له دوکه درکوي.

﴿3﴾ پهٔ فنا کيدونکي دُنيا باندې افسوس کول پريږده، ځکه چې يوه ورځ تهٔ هم مړ کيدونکے يې، او د داسې ښځې ارادے سره ورانديږ ځهٔ (يعني عبادت کوه) په کومه کښې چې د څهٔ بيهوده والي ملاوټ نه وي.

﴿4﴾ ما ځان د عبادت نه د منع کولو سره هلاکت اِختيار کړے دے او پهٔ خپله ملا باندې مې د ګناهونو بوج اچولے دے او د نافرمانئ کولو سره مې چې لکه خپل رَبّ چيلنج کړے دے خو هغهٔ انعام او احسان او کرم کوونکے دے. زهٔ د هغهٔ د ګرفت نه د ويريدو سره سره د هغهٔ د بخښنې طمع هم لرم او زهٔ پهٔ دې خبره باندې پوخ يقين لرم چې هُم هغهٔ انصاف کوونکے مطلق حاکم دے. (بحر الدّموع، ص113)

| | |
|---|---|
| عمر بدیوں میں ساری گزاری | ہائے! پھر بھی نہیں شرمساری |
| بخش محبوب کا واسطہ ہے | یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے |
| وِردِ لب کلمۂ طیّبہ ہو | اور ایمان پر خاتِمہ ہو |
| آگیا ہائے! وقتِ قضا ہے | یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے |

(وسائلِ بخشش، ص137)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ورانديږ دې څهٔ وليږل؟

د **اللّٰه** پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وه وفرمائيلو: واورئ چې بے شکه د **اللّٰه** پاک يوه فرښته پهٔ هره ورځ او شپه کښې يو آواز کوي چې د څلويښتو کالو عمر والؤ! د فصل ريبلو وخت راغلے دے، اے د پنځوستو کالو والؤ! د حساب تياري وکړئ، اے د شپيتو کالو والوؤ! تاسو ورانديږ څهٔ وليږل او وروستو مو څهٔ پريښودل؟

اے د اویاؤ کالو والؤ! تاسو د کوم څیز انتظار کوئ؟ کاش چې مخلوق نه وے پیدا او که پیدا شوے وے نو کاش چې د خپل ژوند مقصد یې پیژندلے وے بیا یې د هغې مطابق عمل کولے، خبردار! قیامت تاسو ته رانزدے شو بیدار شئ. (حلیۃالاولیاء،167/8،رقم:11748 بتغیرٍ)

اے زما خوږو او محترمو مشرانو اِسلامي ورونړو! "بوډا والے" د ارمان او مایوسی د زمانے نوم دے، ډیر کم بوډاګان به وي کوم چې دې عمر ته راشي او پهٔ خپل تیر ژوند باندې ستومانه نه وي. که نیک وي نو پهٔ خپلو نیکو، عبادتونو، ریاضتونو وغیره کښې به پهٔ کمې باندې افسوس کوي او که څوک بوډا اوس هم پهٔ ګناهونو کښې پهٔ ژوند تیرولو کښې مشغول دے نو کیدے شي "چې څنګه نیت هُغسې مُراد" پهٔ مصداق هغهٔ ارمان کوي چې کاش! ما فلانکي ګناه هم کړے وے مَعَاذَالله! اَلاَمَانَ وَالحَفِيظ

الله کریم دې د خپلې رضا مطابق مونږ ته د ژوند تیرولو توفیق راعطا کړي.

یاد ساتئ چې ژوند امانت دے، د **الله** پاک د لورې راعطا شوي جسماني اندامونه هم امانت دے که چرې مونږ دا د الله ربُّ العِزَّت پهٔ اطاعت (یعني فرمانبرداری) کښې استعمال کړل نو ډیر ښه ګڼې نو سبا به د قیامت پهٔ ورځ دا اندامونه زمونږ د اعمالو ګواهي ورکوي لکه څنګه چې **الله** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې پهٔ 18 سیپاره سورهٔ نُور آیت نمبر: 24 کښې ارشاد فرمائي:

يَّوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ اَلۡسِنَتُهُمۡ وَاَيۡدِيۡهِمۡ وَاَرۡجُلُهُمۡ بِمَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۴﴾

ترجمۂ کنزُالعِرفان: پهٔ کومه ورځ به چې د هغوئي خلاف د هغوئي ژبې او د هغوئي لاسونه او د هغوئي ښپې د هغوئي د اعمالو ګواهي ورکوي.

تجھے پہلے بچپن نے برسوں کھلایا جوانی نے پھر تجھ کو مجنوں بنایا
بڑھاپے نے پھر آ کے کیا کیا ستایا اجل تیرا کردے گی اک دن صفایا
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## عُذر نۀ قبلوي؟

د صحابيِ رسول حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې حضور پر نُور صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ارشاد فرمائيلے دے: " **الله** پاک د هُغه ګس د پاره هيڅ يو عذر باقي نۀ پريږدي د چا عمر چې وروستو کړي تر دې پورې چې هغۀ شپيتوو 60 کالو ته وَرسي.

(بخاری،4/224، حدیث:6419)

د دې حديثِ پاک پۀ "فتح الباري" کښې داسې شرح شوې ده: "يعني اوس هغۀ عُذر نشي کولے چې که چرې ما ته مهلت ميلاو شوے وے نو ما به د **الله** پاک پۀ احکامو باندې عمل کړے وے. چې کله يـې پۀ ټول عمر کښې د قدرت باوجود عبادت پريښودو نو اوس پۀ دې عمر کښې د هغۀ سره هيڅ عُذر نه دے پاتې اوس دۀ له پکار دي چې اِستغفار کوي.

(فتح الباری،12/202،تحت الحدیث:6419)

## د بوډا والي نه پس صرف مرګ

مُفتي احمد يار خان رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: "د دې عبارت دوه معنې دي: ﴿1﴾ يوه دا (چې) د اَعذَرَ معنیٰ ده: "عُذر لرې کوي." بيا به مطلب دا وي چې پۀ ماشومتوب او ځوانئ کښې به د غفلت عذر اوريدے شي خو څوک چې پۀ بوډا والي کښې د **الله** پاک پۀ لور رجوع ونکړي د هغۀ عُذر به نۀ قبليږي. ځکه چې پۀ ماشومتوب کښې د ځوانئ اُميد وو پۀ ځوانئ کښې د

بوډا والي، اوس پهٔ بوډا والي کښې د مرګ نه علاوه د بَل کوم يو څيز انتظار دے؟ که چرې اوس هم عبادت نه کوي نو د سزا قابل دے. د دهٔ هيڅ يوه بهانه د اوريدو نهٔ ده.

﴿2﴾ دويمه دا چې د اَعذَرَ معنیٰ ده: ”معذور يـې ساتي.“ يعني کوم بوډا انسان چې د بوډا والي له وجهې زيات عبادت ونـکړي خو پهٔ ځوانۍ کښې يـې عبادتونه کول نو **اللہ** پاک هغهٔ معذوره ګرځوي او د هغهٔ پهٔ اعمال نامه کښې هُغه د ځوانۍ عبادت ليکي. 60 کاله پوره بوډا والے دے. بوډا نوکر پنشني شي هُغه رؤف او رحيم رَبّ هم خپل بوډاګان بندګان پنشني کوي خو پنشن د هغهٔ وي څوک چې پهٔ ځوانۍ کښې خدمت کوي.“ (مرآۃالمناجیح،7/89ملتقطاً)

## د عمر څلور حصے

حضرت علامه غلام رسول رضوي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د دې حديثِ پاک پهٔ شرح کښې فرمائي: اَطِبّا (يعني ډاکټران) وائي چې د عمر څلور حصے دي: ﴿1﴾ د عمر يوه حصه ماشومتوب او هلکواني ده، دا تر ديرشو (30) کالو پورې ده ﴿2﴾ د عمر دويمه حصه ځواني ده، دا تر څلويښتو (40) کالو پورې ده ﴿3﴾ د عمر دريمه حصه کَهُولَت (يعني بوډا والے شروع کيدل) دے، دا تر (60) کالو پورې دے ﴿4﴾ څلورمه حصه شَيخُوخَت (يعني بوډا والے) دے، دا د (60) کالو نه پس دے. پهٔ دې کښې د انسان پهٔ طاقت کښې کمے او کمزوري راځي او بوډا والے ظاهريږي او مرګ پهٔ سر ودريږي. دا د **اللہ** پاک پهٔ لور د رُجوع (يعني د توبې) وخت دے. پهٔ ترمذي شريف کښې د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه روايت دے چې حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”زما د اُمَّت عمرونه د شپيتو (60) او د اوياؤ (70) کالو ترمينځه دي.

د ډيرو کمو خلقو د دې نه زيات عمرونه وي. غرض دا چې انسان تر شپيتوو (60) کالو پورې مضبوط وي او د دې نه پس کمزوري او پوډا والے شروع شي. پهٔ دې عمر کښې **اللّٰه** پاک د هغهٔ ټول عذرونه نهٔ قبلوي ځکه چې د بالغيدو د کال نه تر شپيتوو (60) کالو پورې کافي وخت دے پهٔ کوم کښې چې هغهٔ سوچ فِکر کولے شي. (تفهيم البخارى،9/703)

**اے زما خورو او محترمو مشرانو اِسلامي ورونړو!** مُحاوره ده: ''سحر وتلے که ماښام کور ته راشي نو هغهٔ ته وتلے نشي وئيلے'' خُدائے دې نه کړي که چرې پهٔ ماشومتوب، هلکوانۍ، ځلمي والي او بوډا والي کښې د **اللّٰه** پاک د نافرمانۍ والا کارونه شوي وي نو اوس هم موقع ده، د دې نه فائده واخلئ او د رحم او کرم کوونکي د خپل خوږ **اللّٰه** پاک بارګاه ته واپس شئ! اوس هم وخت دے، لا ژوندي يو، اوس لا د دُنيا پهٔ سپرلي خزان نه دے راغلے، د عام انسان پهٔ ژوند کښې راتلونکي ټول ادوار تير شوي دي. ماشومتوب پهٔ لوبو ټوقو کښې تير شو، هلکواني د دوستانو پهٔ منډهو کښې ورکه شوه، بے وفا ځواني ښه پهٔ مستو او غفلتونو کښې تيره شوه او اوس قبر ته د کوزيدو پورې ملګرتيا کوونکے وفادار بوډا والے دے. د بوډا د پاره د ټولو نه لوئې نصيحت مرګ دے، که چرې څوک د بوډا کيدو باوجود د غفلت د خوبه نه رابيداريږي نو هغهٔ دې کم از کم دومره سوچ خو وکړي چې اوس زر د دُنيا نه تلونکے دے.

گر جہاں میں سو برس تُو جی بھی لے ــــ قبر میں تنہا قِیامت تک رہے
جب فرشتہ موت کا چھا جائے گا ــــ پھر بچا کوئی نہ تجھ کو پائے گا
تیری طاقت تیرا فن عُہدہ تِرا ــــ کچھ نہ کام آئے گا سرمایہ ترا
گورِ نیکاں باغ ہوگی خُلد کا ــــ مجرِموں کی قبر دوزخ کا گڑھا
کھلکھلا کر ہنس رہا ہے بے خبر! ــــ قبر میں روئے گا چیخیں مار کر

کرلے والیہ رب کی رحمت ہے بڑی قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی
وقتِ آخر یاخدا! عطارؔ کو خیر سے سرکار کا دیدار ہو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## 70 کاله عبادت او رياضت

عظيم تابعي بزرګ حضرت مَسروق رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه به دومره اوږد نـمونځ ادا کولو چې د هغوئي ښپې به پړسيدلې او د دې د ليدلو سره به پرې د هغوئي کور والؤ ترس خوړلو او ژړل به يــې. يوه ورځ د هغوئي مور بي بي وه وئيل: ”زما ځويه! تهٔ د خپل کمزوري وجود خيال ولې نه ساتې؟ د دهٔ نه دومره مشقت ولې اخلې؟ ستا پهٔ دهٔ لږ رحم هم نه راځي؟ د لږ سعت د پاره آرام کوه، آيا الله پاک د دوزخ وور صرف ستا د پاره پيدا کړے دے چې ستا نه علاوه به دې ته نور څوک نشي غورځولے؟“ هغوئي پهٔ جواب کښې عرض وکړو: ”مور جانې! انسان له پهٔ هر حالت کښې کوشش جاري ساتل پکـار دي. خوږې مور جانې! زما پهٔ باره کښې به د قيامت پهٔ ورځ دوه خبرې کيږي يا خو به ما بخښلے شي يا به زهٔ پهٔ ګرفت کښې راځم، که ما ته بخښنه وشوه نو دا به صرف د الله پاک فضل او کرم وي او د هغهٔ رحمت او که چرې زهٔ ګير کړے شوم نو يقيناً زما د رَبّ عدل او انصاف به کيږي، لهٰذا زهٔ اوس آرام څنګه وکړم؟ زهٔ به د خپل نفس د وژلو پوره کوشش کووم اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیۡم!“ چې کله د هغهٔ د وفات وخت رانزدې شو نو هغوئي پهٔ ژړا شول. خلقو ترينه پوښتنه وکړه: ”تاسو خو ټول عمر پهٔ عبادت او رياضت کښې تير کړے دے، اوس ولې ژاړئ؟“ اوئې فرمائيل: زما نه زيات چا ته ژړل پکـار دي چې تر اوياؤ (70) کالو پورې مې کومه دروازه ډبوله، نن به هغه بيرسيره کولے شي خو دا نه ده معلومه چې د جنّت دروازه به وي که د دوزخ...؟ کاش چې زما مور زهٔ نه وے

زيږولے او ما دا مشقت نه ليدلو. (حکایات الصالحین، ص36 بتغیرٍ) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## د ګيرې مبارکې سپين ويښته

حضرت ابو جُحَيفَه رضی اللہ عنہ فرمائي: ما د حضور نبيِ کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم پهٔ دې ځائے کښې سپين ليدلي دي. د دې وئيلو سره هغوئي د شونډو مبارکو او د زَنې مبارکې ترمينځه د ويښتو پهٔ لور اشاره وه فرمائيله. (مسلم، ص981، حدیث:2342ملتقطاً)

## د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ واٰلہٖ وَسَلَّم سپين ويښته

د نبي کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم خادِمِ حضرت اَنَس بن مالک رضی اللہ عنہ فرمائي چې "رسول الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم چې کله ظاهري انتقال شريف وه فرمائيلو نو د نبي کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم پهٔ سر مبارک او پهٔ ګيره مبارکه کښې ټول شل (20) ويښته هم سپين نه وو."

(بخاری، 2/487، حدیث:3548)

د حضرت اَنَس رضی اللہ عنہ نه پوښتنه وکړے شوه: "اے ابو حمزه (دا د حضرت اَنَس رضی اللہ عنہ کُنيت وو)! د خوږ مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عمر خو ډير زيات وو." اوئې فرمائيل: **الله** پاک خپل محبوب صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ته د بوډا والي عيب اونه لګولو." عرض وکړے شو: "آيا دا عيب دے؟" اوئې فرمائيل: "پهٔ تاسو کښې هر يو دا (يعني بوډا والي) نهٔ خوښوي."

(قوت القلوب، 2/244)

## چې د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ واٰلہٖ وَسَلَّم حُسن او جمال هر وخت د سترګو د وړاندې وي

حضرت مفتي احمد يار خان رحمۃ اللہ علیہ ليکي: د حضور پاک صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د سر يا

ګیرې مبارکې ویښته دومره نه وو سپین شوي پهٔ کومه چې خضاب لګیدے شو، صرف یو څو ویښته یـې سپین شوي وو. دلته شیخ عبدُ الحق محدثِ دهلوي رحمۃُاللہِعلیہ وه فرمائیل چې سپین ویښته خو ډیر لږ وو څهٔ ویښته یـې سرهٔ شوي وو یعني سپینیدو والا وو، دا دے د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم عشقِ رسول چې حُلیه مبارکه یـې هو بهو بیان کړله. خُدائے دې کړي چې دا حُلیه مبارکه راته پهٔ قبر کښې رایاده شي چې د دې سره د هٔغه ځائے کامیابي تړلې ده. شَهنشاهِ سُخن مولانا حسن رضا خان حسنؔ رحمۃُاللہِعلیہ عرض کوي:

اتنی مدت تک ہو دیدِ مصحف عارِض نصیب حفظ کر لوں ناظرہ پڑھ پڑھ کے قرآنِ جمال

(ذوقِ نعت، ص120)

**شَرحِ کلامِ حسن**: کاش چې تر دومره وخته پورې د خوږ مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم حُسن او جمال وینم چې د رسول الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم جمالِ باکمال پهٔ هر حال کښې زما د سترګو د وړاندې وي.

## نقلي بوډا

نقل هم ښه وي، پهٔ دې باره کښې پهٔ "مَعدَنِ اَخلاق" حصه اوّل صفحه 54 باندې درج یوه خوندوره واقعه د بعضې الفاظو د بدلون سره عرض کووم: یو ټوقمار (Comedian) د مرګ پهٔ وخت خپل یو دوست ته وصیت وکړو چې کله ما دفن کوئ نو زما د ګیرې او سر پهٔ ویښتو کښې "وړهٔ وشیندئ" دوست یـې وه وئیل: یار! تا خو پهٔ ژوند کښې ټوقې مسخرې کولې، اوس خو پهٔ آخري وخت کښې د دې نه منع شهٔ! هغهٔ وه وئیل: که چرې تهٔ واقعي زما خیر خواه یـې نو زهٔ چې څهٔ وایم هغه وکړه. دوست یـې پهٔ خندا شو او راضي شو او د وفات نه پس یـې د دفن کولو پهٔ وخت د هغهٔ د ګیرې او سر پهٔ ویښتو باندې وړهٔ وشیندل. یو څو ورځې

پس هغۀ خپل وفات شوے دوست پۀ خوب کښې وليدو او پوښتنه يې ترينه وکړه: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِکَ؟ يعنې **اللّٰه** پاک ستا سره څۀ معامله وه فرمائيله؟ وفات شوي ګس وه وئيل: زما نه پوښتنه وشوه چې د وړو شيندلو وصيت دې ولې کړے وو؟ ما عرض وکړو: يا **اللّٰه** پاکه ما ستا د محبوب مُحَمَّدٌ رَّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوريدلے وو: اِنَّ اللهَ لَيَسْتَحْيِ عَنْ ذِی الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ "يعنې بے شکه **اللّٰه** پاک د مسلمان د بوډا والي نه حيا فرمائي" (معجم اوسط، 82/4، حديث:5286 ملتقطاً) بوډا والے زما پۀ اختيار کښې نه وو ځکه ما سوچ وکړو چې "د بوډا والي پۀ شان شکل" جوړ کړم. نو **اللّٰه** پاک وه فرمائيل: لاړ شۀ! ما تۀ اوبخښلې.

رحمتِ حق بہانہ مے جُوید رحمتِ حق بہانہ مے جُوید

يعنې د **اللّٰه** پاک رحمت قيمت نۀ غواړي. د **اللّٰه** پاک رحمت بهانه غواړي.

## سپين وينښته به د قيامت پۀ ورځ نُور وي

نن سبا عام طور د زيات عمر خلق د سپينو وينښتو نه ويريږي، حالانکې د مسلمانۍ حالت کښې د بوډا والي له وجهې سپين وينښته راتلل د لوئي سعادت خبره ده. د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: سپين وينښته مۀ اوباسئ ځکه چې دا به د قيامت پۀ ورځ نُور وي. د چا چې يو وينښته سپين شو **اللّٰه** پاک به د هغۀ د پاره يوه نيکي ليکي او د هغۀ يوه ګناه به معاف کوي او د هغۀ يوه درجه به اوچتوي. (الترغيب والترہيب، 86/3، حديث:6)

پۀ يو بَل حديثِ پاک کښې دي: مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْاِسْلَامِ كَانَتْ لَهٗ نُوْرًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ

ترجمه: څوک چې پۀ اِسلام کښې بوډا شو نو د قيامت پۀ ورځ به د هغۀ د پاره نُور وي.

(مشكٰوة المصابيح، 37/2، حديث:3873)

يعنې چې ځواني، بوډا والے پۀ اِسلام کښې تير شي نو دا د نُور حاصليدو ذريعه ده.

معلومه شوه چې زوړ مسلمان د نوي مسلمان نه پهٔ دې لحاظ سره افضل دے. د دې حدیث پهٔ بنا باندې بعضې علمائے کرامو وه فرمائيل چې د سر او ږيرې نه دې سپين ويښته نه ويستلے کيږي چې دا نُور دے. (مراٰۃالمناجیح،473/5 بتغیرٍ)

## د سپينو ويښتو د ويستلو عذاب

د نبي اکرم صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ''کوم ګس چې قصداً عمداً سپين ويښته اوباسي د قيامت پهٔ ورځ به هغه نيزه شي پهٔ کومه باندې چې به دے وهلے شي.''
(کنزالعمال،281/3،جز:2،رقم:17276)

## د ټولو نه وړومبے سپين ويښته د چا راغلے وو؟

د **اللّٰه** پاک خوږ نبي حضرت ابراهيم خليلُ اللّٰه عَلَیۡہِ السَّلَام د ټولو نه وړومبے سپين ويښته وليدلو، عرض يې وکړو: اے رَبَّ دا څهٔ دي؟ **اللّٰه** پاک وه فرمائيل: ''اے ابراهيمه! دا عزت دے.'' عرض يې وکړو: اے زما رَبَّ! زما عزت زيات کړې.
(مؤطاامام مالک،415/2، حدیث:1756)

## د سپين ويښته ليدلو سره د مرګ يادولو بادشاه

پخوا زمانه کښې يو بادشاه پهٔ خپل کور کښې يو تابوت کيښودے وو کوم ته چې به د کتلو سره هغهٔ مرګ يادولو. يو ځل چې سحر هغهٔ پهٔ آئينه کښې خپل مخ وليدلو نو هغهٔ ته پهٔ خپله ږيره کښې يو سپين ويښته پهٔ نظر راغلو، هغهٔ وه وئيل چې اوس د مرګ يادولو والا دا تابوت اوچت کړئ ځکه چې زما پهٔ ږيره کښې سپين ويښته راغلے دے کوم چې د مرګ قاصد (يعنې پيغام وړکوونکے) دے ځکه به زهٔ اوس دې ته ګورم او مرګ به رايادووم.

## د تورو وېښتو نه پس سپين وېښته راتلل

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ خپل ځوي ته ارشاد وه فرمائيلو: پهٔ تورو وېښتو کښې سپين وېښته راتلل تا د **الله** پاک د نافرمانئ نه منع کوي.

(موسوعۃ ابن ابی الدنیا، 7/562، حدیث:26)

## بوډا والے راغلو خو بدئ لا نهٔ لړې

يو ځل بايزيد بِسطامي رحمۃ اللہ علیہ پهٔ آئينه کښې وه کتل نو پهٔ خپل سر او ګيره کښې يې سپين وېښته وليدل او د (عاجزئ پهٔ طور يې خپل ځان ته) وه فرمائيل: ظَهَرَ الشَّيْبُ وَلَمْ يُذْهِبِ الْعَيْبُ يعنې شَيب (بوډا والے) خو راغلو عيب لا نهٔ ړو. (مرقاۃ المفاتیح، 7/433، تحت الحدیث:3873)

جعفر بن **محمد** خُراساني وائي: يو بوډا ګس ته وه وئيلے شول: تاسو پهٔ دې باقي پاتې ژوند کښې څهٔ څيز خوښوئ؟ جواب يې ورکړو: (پهٔ خپلو) ګناهونو باندې ژړل.

(موسوعۃ ابن ابی الدنیا، 7/562، حدیث:28)

ہے بڑھاپا بھی غنیمت جب جَوانی ہو چکی — یہ بڑھاپا بھی نہ ہو گا، موت جس دم آگئی

## شل کاله پس توبه

وئيلے کيږي چې د بني اسرائيلو يو ځلمي تر شلو کالو پورې د اللّٰهُ ربُّ العِزّت عبادت وکړو بيا هم دومره موده پهٔ نافرمانو کښې اخته وو. يوه ورځ يې پهٔ آئينه کښې پهٔ ګيره کښې سپين وېښته وليدو او پهٔ خپلو نافرمانو باندې وه شرميدلو او د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې يې عرض وکړو: "يا **الله** پاکه ما تر شلو کالو پورې ستا عبادت وکړو بيا مې تر شلو کالو پورې ستا نافرماني وکړه که چرې زهٔ ستا پهٔ لور واپس راشم نو آيا تهٔ به زما توبه قبوله کړې؟" نو هغهٔ دا غيبي آواز واوريدو: " تا زمونږ سره دوستي وکړه نو مونږ هم ستا سره **محبَّت** وکړو، تا مونږ

پريښودو نو مونږ هم تۀ پريښودلې، تا زمونږ نافرماني وکړه نو مونږ تا له مهلت درکړو اوس که چرې تۀ زمونږ پۀ لور راشې نو مونږ به تا قبول کړو.“ (احياء العلوم،19/4)

## د سرو زرو پۀ قَلم ليکلے شوي نصيحتونه

اِمام عبدُ الرَّحمان ابنِ جوزي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه د ژوند قدر او قيمت بيانوي او د بوډا والي پۀ منزل باندې موجود د آخرت د سفر مسافرو ته د نيکو تحفے د ځان سره د وړلو ترغيب ورکوي او فرمائي:

اے د لارې د سامان نه بغير سفر اختيارونکيه! منزل ډير لرې دے خو ستا سترګې وَچې او زړۀ د اوسپنې نه زيات سخت دے، او تۀ پۀ هره راتلونکې ورځ کښې د ګناهونو پۀ سمندر کښې غرق اوسې نو د مصيبت به ستا نه زيات حقدار څوک وي؟ افسوس چې ځوانی تۀ رابيدار نۀ کړې او نۀ بوډا والي تۀ ويرولې، حد خو دا دے چې ستا د ويښتو سپينيدو هم تۀ د ګناهونو نه منع نۀ کړې، ما ته ستا کاميابي ډيره ګرانه ښکاري، د آخرت فِکر کوونکو ته وګوره! چې هغوئي چرته ورسيدل! هغوئي نرمه بستره راټوله کړله او د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې پۀ ژړا او د آخرت پۀ تيارۍ کښې مشغول شول، د هغوئي پۀ مخونو باندې بهيدونکو اوښکو نخښې جوړې کړې دي. (بحر الدموع،ص147)

اے زما وروره! تا خپل ژوند پۀ لوبو ټوقو کښې ضائع کړو او نور خلق مقصد ته وه رسيدل تۀ د هغوئي نه وروستو پاتې شوې، آيا تا چرې اوريدلي دي چې (د مرګ نه پس) فلانکے واپس راغلو او هغۀ توبه کړله.

اے هغه انسانه د چا سره چې د خوش بختۍ وخت موجود دے! تۀ به د نفس د خواهشونو د جال نه کله نجات حاصلوې او کله به د خپل عزت والا، د [ښه] خوبيانو والا مولا

پهٔ لور رجوع کوې؟ اے مسکینه! کاش چې تا د توبه کوونکو غم لیدلے وے او د ویریدونکو د خبرداري د وحشت نه راتلونکې ناقلارې دې لیدلے وے چا چې د خپلو سترګو یخ والے نمونځ، زکوٰۃ او د دُنیا نه بے رغبتۍ کښې وساتلو، خو بدبختو خپلې ځوانۍ پهٔ غفلت کښې او بوډا والے پهٔ حرص او پهٔ اوږدو اُمیدونو کښې برباد کړو، نو نهٔ خو یې د خپلې ځوانۍ نه فائده حاصله کړه او نهٔ یې پهٔ خپل بوډا والي کښې رجوع وکړله، اے خپلې ځوانۍ او بوډا والي بربادونکیه....

بوډا والي تا ته د مرګ واضحه خبرداره درکړې دے. اے د ژوند مسافره! تهٔ د حده وتلے یې، پهٔ خپل ازمیښت باندې اوښکې توئې کړه، هسې نه چې پهٔ تا لعنت ملامت وکړے شي، اے هغه انسانه! د چا چې زیات عمر تیر شو او تیر شوے وخت واپس نشي راتلے، نصیحتونو ستا راهنمائي وکړه او بوډا والي تهٔ خبردار کړې چې مرګ رانزدې دے او پهٔ خُله پهٔ زوره نعرې وهي:

يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِۚ ﴿۶﴾ (پ30، الانشقاق، آیت:6)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے انسانه! بے شکه تهٔ د خپل **رب** طرف ته منډې وهونکے یې بیا د هغهٔ سره ملاقات کوونکے یې.

(بحرالدموع، ص48، 152، ملتقطاً)

زما خوږو او محترمو مشرانو اِسلامي وروڼو! دا بوډا والے خاص طور د توبې او اِستغفار کولو او د ګناهونو نه د بچ کیدو وخت دے، پهٔ یو روایت کښې دي چې "د چا د ژوند خلویښت کاله تیر شول او د هغهٔ نیکۍ د هغهٔ پهٔ ګناه باندې غالبه نشي نو هغهٔ له پکار دي چې د دوزخ د پاره تیار شي." (تنزيه الشريعة المرفوعة، 205/1، رقم:68)

که د یوې مجاهدے مشقت نه وے نو خلقو ته به د "باکماله سړي" نوم ورکړے کیدو.

اے د مړه زړۀ والا! که چرې تۀ پۀ ځوانئ کښې د نيکو پۀ لور مائله نۀ شوې نو پۀ بوډا والي کښې مائله شه، ځکه چې د سر سپينيدو نه پس لوبے ټوقې بے فائدے دي او پۀ بوډا والي کښې نافرماني زياته بده ده، چې کله تا ته وه وئيلے شي چې تا ځواني پۀ غفلت کښې ضائع کړله او اوس پۀ بوډا والي کښې د (نيک) اعمال پۀ کمي باندې ژاړې''، که چرې تا ته معلومه وه چې ستا د پاره کوم يو عذاب تيار شوے دے نو تا به ټوله شپه پۀ ژړا تيروله.

بوډا والے د دُنيا نه د تللو اعلان کوي، اے انسانه! د آخرت تيارے وکړه تر څو پورې به عذر کوې؟ تر څو پورې به سستي کوې؟ څومره غفلت به کوې؟ زۀ د قيامت پۀ ورځ تا معذوره نه بياموم، ستا د ميلاويدو کور وران دے خو د جدايئ کور آباد دے، راوړاندې شۀ کيدے شي چې د غفلت ازاله وشي او د ګناهونو نه معافي ميلاؤ شي او د پيشمني پۀ وخت يوه سجده داسې وکړې کومه چې تا ته د قيامت د وحشتونو نه نجات درکړي.

اے توبه کوونکو! راشئ چې مونږ پۀ خپلو ګناهونو باندې وژاړو، دا د ژړا مقام دے. اے پۀ توبه کښې د لم ليټ نه د کار اخستو سره د بوډا والي پۀ دُرشل داخليدونکيه! اے خپله ځواني پۀ غفلت کښې ضائع کوونکيه! اے د خپلې بد عملئ له وجهې د **الله** پاک د بارګاه نه لعنت ملامت کوونکيه! تۀ پۀ ځوانئ کښې غافله پاتې شوې، که چرې پۀ بوډا والي کښې هم داسې د توبې نه محرومه پاتې شوې نو کله به د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې حاضريږې؟ دا د دوستانو طريقه خو نۀ ده، ستا ظاهر خو آباد دے خو افسوس چې ستا باطن برباد او وران دے، تا څومره نافرمانئ وکړې د کومو له وجهې چې ستا او د **الله** پاک ترمينځه پردے خنډان [يعنې رکاوټونه] جوړ شوي دي.

تا د خپل ژوند بهترينې ورځې پۀ ګناهونو کښې تيرې کړې. آخر به د اِصلاح پۀ لور کله راځې؟ که چرې تا پۀ خپل تير عمر کښې نيکئ وړاندې راليږلے وے نو ستا حساب

به کم شوے وے. اوس به دا څنګه کمیږي چې تا خپل ژوند پهٔ غفلت او د دُنیا پهٔ مال جمع کولو کښې تیر کړو. چې کله بوډا والي د مرګ نه ویرولې او تا د لاړې سامان وړاندې اونه لیږلو نو تهٔ به څهٔ جواب ورکوې؟ کاش چې چا زهٔ پوهه کړے وے چې د ګنهګارانو خپل ژوند آخر ولې خوښ وي.

## د عربی د یو څو شعرونو ترجمه

چې کله د میلاویدو او د راضي کیدو زمانه تیره شوله نو تا د تیرې شوې معاملې د واپس راګرځولو مطالبه وکړه، تهٔ ولې رانغلې حالانکې ستا سره د ملاقات وخت موجود وو او ستا د بوډا والي سپین والے، د غاښونو (د سپین والي) نه زیات پرقیدونکے وو. (بحرالدموع،ص49)

ہوئی جاتی ہے ہائے عمر ضائع جانتا ہوں میں
نہیں آئے گا ہرگز وقت گزرا یارسولَ اللہ
نکلنے والی ہے اب روحِ مضطر جسم سے جاناں
کرم! ایماں کو ہے شیطاں سے خطرہ یارسولَ اللہ
(وسائلِ بخشش، ص346)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه!

د شـــــيخ طريقت امير اهلِ سُنَّت

حضرتِ علامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادري

رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خلـــيفهٔ امير اهلِ سُنَّت الحاج ابو

اُسَيد عُبَيد رضـــا مَدَنِي مُدَّظِلُّهُ الْعَالِي له طرفه هره هفته د يوې رســـالې لوستلو يا

اوريدلو ترغيب ورکولے کيږي. مَاشَاءَاللّٰهُ الْكَرِيْم لا کهونه اســـلامي وروڼه او

اسلامي خويندې دا رساله لولي يا اوري او د امير اهلِ سُنَّت او خليفهٔ

امير اهلِ سُنَّت د دعاګانو حقدار جوړيږي . دا رساله په آډيو کتــــابي د

دعوت اســـلامي د ويب ســـائټ **www.Dawateislami.net** يا د

**Read and listen Islamic book** ايپلي کيشــــن نه فري داؤن لوډ

کيدے شي. د ثواب په نيت يې ټولو ته هُم لولـــئ او د خپلو مـــرحومينو د

ايصالِ ثواب دپاره يې تقسيموئ هُم.

(شُعبه هفته واره رساله مطالعه)


فيضانِ مدينه، محله سوداگران، پراني سبزي منڈي کراچي

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net